Providence Schools

PPSD

# ښوونه او زده کړه

*تیمونه، اعتماد او روڼتیا*

**د کارولو شرايط**

زده کونکي/والدين/سرپرستان بايد په هر وخت کې د تعليمي حوزې دننه او بهر د تعليمي حوزې د ټکنالوژۍ او وسايلو د کارولو اړوند د PPSD ل پاليسي او تګلارې مراعت کړي. هر ډول نه مراعت کول ښايي د انظباتي اقدام او د تعليمي حوزې په ملکيت او محاسباتي سرچينو کې د زده کونکي د ملکيت د حقونو له منځه تللو پايله ولري. ټول وسايل او لوازم بايد د تعليمي کال له وروستي ورځې څخه وړاندې په ښه حالت کې بېرته ښوونځي ته وسپارل شي، مګر دا چې ملکيت د تعليمي حوزې د چارواکو لخوا له وړاندې څخه يا له ښوونځي څخه د زده کونکي د وتلو پرمهال پای ته رسېدلي وي.

**مسؤليت**

1 د ملکيت د تخريب، ورکېدو يا غلا په صورت کې بايد د زده کونکي له ښوونکي يا د ښوونځي له اداري سره ژر تر ژره اړيکه ونيول شي.

2 د غلا، وحشت او نورو جنايي کړنو په صورت کې بايد د پوليسو راپور ثبت او ستاسو ښوونځي ته يې يوه نسخه ورکړل شي.

3 زده کونکی يا د زده کونکي کورنی به د ترميم/بدلولو د لګښت مسؤله وي که چيري:

   أ که چېرې تخريب د بي پروايي يا عمدي کړنې له امله رامنځته شوي وي.

   ب که چېرې آله د بي پروايي يا عمدي کړنې له امله ورکه يا غلا شوي وي.

   ت که چېرې آله د تعليمي کال په پای کې تعليمي حوزې ته بيرته سپارل شوی نه وي.

**د آلې تعقيب او څارنه**

1 په ټولو موبايلونو کې به يو سافټ وير نصب شوي وي ترڅو هغه د ورکېدو يا غلا کېدو په صورت کې تعقيب او وڅاري. دغه سافټ وير دواړه د تعليمي حوزې دننه او بهر د حرکت او کارولو د تعقيب وړتيا لري

   أ د تعقيب کولو سافټ وير به يواځې د ورکېدو يا غلا په صورت کې يا د زده کونکي د خونديتوب په تړاو پلټنو کې د مرستي لپاره فعال شي.

2 ټول موبايلونه چې له تعليمي حوزې څخه وځي بايد د ويب-فيلترينګ سافټ وير ولري. دا سافټ وير د زده کونکو د خونديتوب ډاډمنولو لپاره نصب شوی دی.

   أ ويب-فيلترينګ سافټ وير به دواړه د تعليمي حوزې دننه او بهر د آلې د کارولو د تعقيب وړتيا ولري.

   ب د ويب-فيلترينګ سافټ وير د ګُل کولو يا غيرفعال کولو هڅه منع ده او د دې کار ترسره کول به له دې پاليسی څخه د سرغړونې په توګه په پام کې ونيول شي

**د آلې عمومي لارښوونې**

- زده کونکي د هيڅ ډول محرميت تمه نه لري. تعليمي حوزه به آلې کې هر ډول ذخيره شوي يا انتقال شوي مالومات وڅاري.
- د تعليمي حوزې موبايلونه به د تعليمي حوزې لخوا تصديق شوي ليبلونه ولري. دا ليبل بايد د هيڅ دليل لپاره لرې نه شي.
- که چېرې آله په سمه توګه کار و نه وکړي، زده کونکي بايد خپل ښوونکی يا د ښوونځي اداره خبره کړي.
- فايلونه/اسناد بايد له اصلي جوړونکي/مالک څخه پرته د بل کس لخوا حذف نه شي.
- د تعليمي حوزې په آلو کې نامناسب مواد ذخيره کېدلي، انتقاليدلي يا لاسرسی کېدلي نه شي
- زده کونکي بايد له خپل اړونده کاروونکي نوم او پاسورډ سره دننه شي.
- زده کونکي بايد د خپل دننه کېدو مالومات له نورو کسانو سره شريک نه کړي.
- هره آله يو زده کونکي ته ځانګړي شوي ده. زده کونکي بايد هڅکله هم خپله آله له بل زده کونکي سره "تبادله" يا "شريکه" نه کړي.

- که چېرې موبايلونه صحيح کار و نه کړي هغه بايد ترميم لپاره د تعليمي حوزې کارکونکو ته وسپارل شي. مهرباني وکړئ پخپله د آلي د ترميمولو هڅه مه کوئ. د غير مجاز پرسونل پواسطه د آلي هر ډول ترميمولو هڅه به د دې پاېله ولري چې زده کونکی به د آلي د بشپړ بدلولو لګښت ادا کړي.

**مسؤليتونه**

***زده کونکی***

- زده کونکي تل او په هر وخت کې د خپلې آلې مسؤل دي، هغه که په کور کې وي او که په ښوونځي کې وي.
- زده کونکي هره ورځ ښوونځي ته د خپلې آلې د راوړلو مسؤليت پر غاړه لري.
- زده کونکي بايد د هېڅ دليل لپاره خپله آله يا د هغې اړونده اجزاوې بل زده کونکي ته په پور ورنکړي.
- زده کونکي هره ورځ د خپلې آلې د بطرئ چارج کولو او ساتني او مراقبت مسؤل دي.
- زده کونکي د انفرادي ښوونځي او تعليمي حوزې د پاليسېو د بياکتني او تعقيب مسؤليت پر غاړه لري.

***والد***

- والدين/سرپرستان د تعليمي حوزې له موقعيت څخه بهر د خپل زوی يا لور د آلي د کارولو د څارني مسؤليت پرغاړه لري.
- والدين/سرپرستان له خپل زده کونکي سره د PPSD د منلو وړ کارولو د پاليسی د بياکتني مسؤليت پرغاړه لري

**د بېرته سپارلو کړنلاره**

د تعليمي کال په پای کې، يا له هغه څخه وړاندې لکه څرنګه چې د تعليمي حوزې لخوا ټاکل شوې وي، زده کونکي به آله او د هغې ټول لوازم بېرته ښوونځي ته وسپاري.
آلې او لوازم به موجودي او د تخريب لپاره بررسي شي. زده کونکي به د ورکوو شوو برخو مسؤليت پرغاړه ولري.